د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه ۱۷ جمادي الثاني، | ۲۰۲۰/۰۲/۱۱م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۷

مطبوعاتي اعلاميه

# له امریکا څخه د صداقت تمه له اور څخه د سړو هیلې ته ورته ده

طالبانو په هغه لیکنه کې چې د هغوی رسمي نظر څرګندوي، ویلي وو چې هغوی د سولې د مذاکراتو په بهیر کې خپل ټول مسؤلیتونه ترسره کړي دي، خو امریکا د «نوو غوښتنو، نیوکو او بهانو» له لارې خبرې اترې اوږدوي. له دې وړاندې هم د دغه ډلې ویاند د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر د څرګندونو په اړه ویلي و: «پمپئو دې د خپل بام واورې زموږ بام ته نه راغورځوي.»

د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د سولې د پروسې د اوږدېدو په اړه د لاندې ټکو یادول مهم او اړین بولي:

**لومړی:** امریکا هڅه کوي ترڅو د سولې هوکړه لیک د بېلابېلو بهانو له لارې یوه مناسب فرصت ته برابر کړي، ترڅو د ټرمپ ټیم د هغه له لاسلیک کولو د امریکا په ټاکنو کې د یوې لویې تبلیغاتي هڅې په توګه ګټه واخلي. لکه څنګه چې ټرمپ د ابوبکر البغدادي او قاسم سلیماني له وژلو او د پېړۍ له معاملې څخه په راتلونکو ټاکنو کې د عامه افکارو د ملاتړ د جذبولو لپاره په تبلیغاتي ډول وکارول.

**دویم:** امریکا او طالبان دواړه د سولې د هوکړه لیک په اړه بېلابېل لیدلوري لري. مسلمانان تړون او تړون ته ژمنتیا یو مهم اسلامي ارزښت بولي، له همدې امله طالبان د واقعي هوکړه لیک او مصالحې په فکر کې دي. مګر امریکا تړون او هوکړه لیک ته د چانس او غولولو په سترګه ګوري او د امریکا سیاست په ځانګړي ډول له دولتونو او ډلو سره د خبرو اترو پر مهال د غولولو، نه ژمنتیا او تړون ماتولو پر بنسټ ولاړ دی. په داسې سیاست کې صداقت او تړون ته ژمنتیا هېڅ معنی نه لري. څکه امریکا په نړۍ کې د تر ټولو ستر تړون ماتوونکي هېواد لقب خپل کړی دی. د امریکا وروستیو دریځونو او د سولې د خبرو اترو د پرمختګ څرنګوالي ته په کتو دا جوتېږي چې امریکا په افغانستان کې د واقعي سولې غوښتونکې نه ده، بلکې د طالبانو د حرکت پر وړاندې توطیه او دسیسه کوي.

**درېیم:** د سولې خبرې اترې د سیاسي تاکتیک په توګه لنډمهالې وي. څکه امریکا د هغو له لارې غواړي د ځان لپاره وخت و پلورې، ترڅو په افغانستان کې خپله ماتې پټه کړي. امریکا په دې ښه پوهیږي چې د جګړې په ډګر کې د طالبانو صبر او استقامت د هغوی په ضرر تمامېږي. له همدې امله امریکا طالبان د سیاست، ډیپلوماسۍ او مذاکراتو هغه میدان ته ور وستلي دي چې خپله وربانديې بریالۍ او تر ولکې لاندې یې دی او په خپله خوښه کله مذاکرات «مړه» اعلانوي او کله د مذاکراتو مېز ته راګرځي او د اوربند شرط ږدي.

**څلورم:** طالبان باید پر امریکا باندې د باور او د سولې د خبرو اترو د پرمخ بېولو پرځای، ژر تر ژره مذاکرات ودروي او له هغې څخه بهر شي او پرځای به یې د امریکایي اشغال پر وړاندې په عملي میدان کې د مبارزې دوام او صبر د هغوی بریالیتوب تضمین کړي؛ او دا یوازینی میدان دی چې امریکا پر هغه نشي بریالۍ کېدلای. څکه په سیمه او نړۍ کې ګڼ داسې شواهد تر سترګو کیږي چې امریکا د افغانستان په سیاسي، اقتصادي او نظامي ډګرونو کې ماتې خوړلې. نو طالبان باید د سولې په دروغجنه پروسه کې د امریکا پر ډیپلوماسۍ ونه غولېږي، بلکې باید د اشغال پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**